# بین المللی د ژبي ټولګۍ (آی تی کی) اوتهورن

## ایا تاسو او یا ستاسو ماشوم په دې وروستیو کې په هالنډ کې د ژوند کولو لپاره راغلي یاست؟ ایا ستاسو ماشومان له هالنډي ژبي سره لږه بلدتیا لري؟

د دې لپاره چې په تعلیمی زده کړو کې بریالي شئ، ستاسو د ماشوم لپاره دا اړینه ده چې څنګه د هالنډي ژبي په سم او روان ډول خبرې، لوستل او لیکل وکړي.

په دې کې د (نړیوالې ژبې ټولګي آوتهورن) مهم رول لوبولی شی..

که ستاسو د ماشوم عمر د شپږو (۶) او دولسو (۱۲) کلونو ترمنځ وي، هغه کولی شي د ژبې په دې ځانګړي پروګرام کې برخه واخلي.

بین المللی د ژبی ټولګي د عادي ښوونځیو برخه ده په **اوتهورن ټولنه** کې.

موقیعت یې د **سپرینګ سخن، اینډرخت۸ ، اوتهورن**.

په نږدې یو کال کې به ستاسو ماشوم د نورو ملیتونو د ماشومانو سره یوځای د هالنډي ژبې اساسات زده کړي. دا یو ژور پروګرام دی، چې په عمده توګه د لغاتونو لاسته راوړنې لري، ورسره د لوستلو او لیکلو مهارتونه او دښوونځی عادي مضامین لکه ریاضي، بیولوژي، جغرافیه او تاریخ هم ورسره تدریسیږی..

### ستاسو ماشومان به په اونۍ کې پنځه ورځې په دې ټولګي کې ګډون وکړي.

دوشنبه د سهار له 8:30 څخه تر 12:00 بجو پورې او د ماسپښین له 1:00 بجې څخه - د ماسپښین تر 3:00 بجو پورې

سه شنبه د سهار له 8:30 څخه تر 12:00 بجو پورې او د ماسپښین له 1:00 بجې څخه - د ماسپښین تر 3:00 بجو پورې

چهارشنبه د سهار له 8:30 څخه تر 12:15 بجو پورې

پنجشنبه د سهار له 8:30 بجو څخه تر 12:00 بجو پورې او د ماسپښین له 1:00 بجې څخه - د ماسپښین تر 3:00 بجو پورې

جمعه د سهار له 8:30 څخه تر 12:00 بجو پورې او د ماسپښین له 1:00 بجې څخه - د ماسپښین تر 3:00 بجو پورې

ستاسو ماشوم به په کور کې د غرمې ډوډۍ خوري. خو که تاسو کار کوئ او یا باید ښوونځي ته لاړ شئ، نو په هغه صورت کی ستاسوماشوم کولی شي په ښوونځي کې د غرمې ډوډۍ وخوري. دغه کار ته **اووربلیف** وایی. (دا په دي معنی چه په ښوونځی کی پاته سی). دا پاته کیدل په ښوونځی کی مصرف لري. د هري ورځی لپاره( **۲،۵**) ایرو که چیری تاسو غرېتوب ولری، ددي لپاره به تاسو جلا لیک در لاسه کړی. ټول ماشومان باید د سهارنۍ تفریح لپاره د خوړلو او څښلو لپاره یو څه د ځان سره راوړی او همدارنګه د غرمی لپاره که په ښوونځی کې پاته کیږی.

د نړیوالې ژبې په ټولګي کې ګډون وړیا دی.

په ښوونځی کی د محفلونو ،ساحوی سفرونو او نورو تعلیمی فعالیتونو لپاره به په کال کې د (۴۷،۵۰) یورو رضاکارانه مرستې غوښتنه درڅخه وشی. تاسو به په دې اړه یو جلا لیک هم ترلاسه کړئ.

# بین المللی د ژبې ټولګۍ (آی ټی کی) اوتهورن

د نړیوالې ژبې ټولګي له پای ته رسولو وروسته به ستاسو ماشوم کولی شي په **اوتهورن** کې یو منظم لومړني ښوونځي ته لاړ شي. دا به ستاسو د خوښې وړ لومړني ښوونځی وي او په غوره توګه به ستاسو د استوګنې په سیمه کې موقیعت ولری. د نړیوال ژبې ټولګي په وروستي سمستر کې به زده کوونکی په اونۍ کې یوه ورځ په دې لومړني ښوونځي کې د نوي ټولګي او ښوونکي سره د آشنا کیدو لپاره حاضریږي. د نړیوالې ژبې د ټولګي ښوونکی به دا ډاډ ترلاسه کوي چې لومړني ښوونځي ستاسو د ماشوم په اړه ښه خبر دي او د نورو لارښوونو لپاره به وړاندیزونه ورته وکړي..

**نوټ:** که چیری ستاسو ماشوم د اتباعو د خدماتو مشخصه شمیره ونلری (بی اس ان) نو هم کولای شی په دغه ټولګی کی غړیتوب ولري.

د لا زیاتو معلوماتو لپاره، مهرباني وکړئ د میرمن **مارین لیسلي ملر** سره اړیکه ونیسئ،

د تلیفون شمیره:۰۲۹۷۵۲۳۳۹۷

info.itk@wijzeraandeamstel.nl :بریښنالیک

د لا زیاتو معلوماتو لپاره کولای شی لاندني ویبپانه تعقیب کړی.

www.itk-uithoorn.nl